# جریده میزان

د سترې محکمې کاري څرګندویه خپرونه

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

دو شنبه ۱۵ غبرګولی ۱۴۰۲ هـ ش    ۱۶ ذوالقعدة الحرام ۱۴۴۴ هـ ق    ۵ جون ۲۰۲۳ م    مسلسله شمېره (۳۵)


**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې اېښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.
زياتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وي، نو د نړۍ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کېده.
تفسير کابلی، ج ۲، ص ۱۳۰۳

## د سترې محکمې د عالي شورا ۲۴مه غونډه ترسره شوه

چهارشنبې (۱۴۴۴/۱۰/۲۷ هـ ق)نېټه د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د رئيس او قاضي القضات محترم شيخ عبدالحکيم (حقاني) صاحب په مشرۍ د سترې محکمې د عالي شورا ۲۴مه غونډه ترسره شوه.

د سترې محکمې د عالي شورا په دې ناسته کې چې د سترې محکمې د رئيس او قاضي القضات محترم شيخ عبدالحکيم (حقاني) صاحب په مشرۍ جوړه شوې وه د عالي شورا غړو محترم شيخ محمدقاسم (راسخ)صاحب، محترم شيخ عبدالمالک (حقاني) صاحب، محترم شيخ خيرجان (خيرخواه) صاحب، محترم شيخ محمد شريف (حقاني) صاحب او محترم مفتي عبدالرشيد (سعيد) صاحب ګډون درلود.

د عالي شورا په دې ناسته کې د غونډې په اجنډا کې د شاملو نهو (۹) مهمو موضوعاتو په اړه تر تفصيلي خبرو وروسته د يادو موضوعاتو اړوند فيصلې صادرې شوې.

د سترې محکمې د عالي شورا دغه ناسته د دعاء په ويلو سره پای ته ورسېده.

## د سترې محکمې د قضائي تفتيش عمومي رياست په (۲۴) ولايتونو کې د اختصاصي محاکمو او د حقوقو د آمريتونو د پروسې د انتقال لپاره هيئتونه ولېږل.

د ۱۴۴۴ هجري قمري کال د شوال مياشتې په ۲۵مه نېټه د سترې محکمې د محترم مقام په هدايت د قضائي تفتيش د عمومي رئيس محترم مفتي محمد ابراهيم جان «ابوالحفاظ» په مشرۍ، د ياد رياست د قضائي پلټونکو څخه څلور ګروپيز هيئتونه د هيواد (۲۴) ولايتونو ته د حقوقو د آمريتونو او د مرافعه محاکمو انګړ ته د اختصاصي محاکمو انتقال، د محاکمو د نقليه وسائلو او ملکيتونو د تثبيت په موخه سفر وکړ،

چې په ترکيب کې محترم حافظ مولوي عبدالولي «محمود»، مولوي سيف الرحمن« ذاکر»، مولوي روزي محمد «زميل»، مولوي عبدالبصير»غزنوي»، مولوي عبدالوارث « سعيد»، مولوي عبدالرحمن»مخدوم» او مولوي عبدالولي»مصباح» شموليت درلود.

مؤظف پلاوي د استيناف رئيسانو هغه وړانديزونه چې د حقوقو د آمريتونو او اختصاصي محاکمو، نقليه وسائلو، د ملکيتونو د تثبيت د سمون او پرمختګ په غرض درلودل په دقيقه او هر اړخيزه ډول وڅېړل او په اړه يې مفيدې مشورې او ګټورې لارښوونې وکړې.

هيئت د يادو ادارو د ستونزو د هوارې او د نيمګړتياوو د اکمال په اړه د محاکمو له رئيسانو سره تفاهمي ناستې ترسره کړې او د چارو د لا ښه سمون په برخه کې ورته لازمې لارښوونې وکړې.

همدا راز پلاوي د محاکمو مسؤلينو ته هدايت ورکړ، چې د هيوادوالو مسائلو ته په ټاکلې وخت او په شفافه توګه په رسېدو سره د قضيو د ځنډ له امله د خلکو شکايت رفع کړي.

دغه ډول هيئت د محاکمو لخوا شوي پيشنهادونه د سترې محکمې محترم مقام ته وړاندې کړل.

د قضائي تفتيش هيئت د ۱۴۴۴ هجري قمري کال د ذو القعدې مياشتې په ۴مه نېټه خپل سفرونه په داسې حال کې پای ته ورسول چې له لاسته راوړنو ډک وو.

## د سترې محکمې قضائي زده کړو عمومي رياست کې د محاکمو قضائي کارکوونکو ته علمي او عملي قضائي سيمينار جوړ شو




د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د قضائي تعليماتو عمومي رياست په تالار کې د پکتيکا او يو شمېرو نورو ولايتونو شاوخوا ۱۴۴ جديد التقرر قاضيانو، مفتيانو او محررينو ته علمي او عملي قضائي سيمينار ورکړل شو.

د ياد سيمينار ګډونوالو ته د قضائي تعليماتو عمومي رياست د مسلکي مدرسينو لخوا د اسلامي امارت تعليمات نامه، د معين القضاة والمفتين او د وثايقو لارښوود په عملي او نظري ډول تدريس شول.

د دغه قضائي سيمينار يو تن استاد محترم مفتي نصيب الله صاحب وويل، د سترې محکمې لخوا معمولاً د مؤظف قضاتو د ظرفيت لوړونې لپاره سيمينارونه جوړېږي، په دې سيمينارونو کې تعليمي، تربيتي، علمي او نظري برخې شاملې وي او په همدې توګه په اداري چارو کې هم ورته بشپړ معلومات ورکول کېږي.

نوموړي زياته کړه، موږ چې له هر سيمينار وروسته نتيجه ګيري کوو دغه قضائي سيمينارونه ډېر زيات ګټور تمام شوی دی.

د پکتيکا ولايت د مرافعه محکمې رئيس محترم مفتي عبيدالله (خالد) هم دغه قضائي سيمينارونه ډېر ګټور وبلل زياته يې کړه، په يادو قضائي علمي سيمينارونو کې قاضي صاحبان علمي او نظري زده کړې کوي.

نوموړي د محاکمو له مسؤولينو څخه د ورته سيمينارونو د دوام او توجه غوښتنه وکړه.

د مولوي محمد شريف جهاديار په نوم د کابل ولايت د قره باغ ولسوالۍ د ابتدائيه محکمې قاضي او د دغه سيمينار يو تن ګډونوال وويل، دغه قضائي سيمينار کې د محترمو شيوخو کرامو او استادانو لخوا موږ ته د تدريس او عملي کار لپاره وخت راکړل شوی وو.

نوموړي د محاکمو له مسؤلينو غوښتنه وکړه چې دغه ډول قضائي علمي سيمينارونو وخت زيات کړي ترڅو ګډونوال دين او اهل دين ته د خدمت مصدر جوړ شي.

د سيمينار بل ګډونوال او د پکتيکا ولايت د ښارې محکمې رئيس مولوي محمد اشرف ابوخالد هم دغه سيمينار له لاسته راوړنو ډک او ګټور وباله او وويل، دغه سيمينار ته د پکتيکا د ټولو ولسواليو، مرافعه محکمې او ښارې محکمې څخه ټول جديد التقرر قضائي منسوبين رابلل شوي او دلته يې ګډون درلود.

د قضائي زده کړو عمومي رياست د مسؤولينو د معلوماتو په اساس د ياد سيمينار ګډونوالو ته په عملي ډول د مختلف النوع وثايقو، قبالو، د عريضې، جلب پاڼې، صورت دعوی، دفع دعوی، د صحت شرايط، د دوسيو او ابلاغ پاڼو د ليکلو طريقه، د دوسيو ترتيب، تنظيم او د لېږلو طريقې، د صادرې او واردې، مکتوبونو او نور عملي طريقې روښانه او تدريس شوې.

پر دې سربېره د سيمينار په ګډونوالو هره ورځ د مختلفو موضوعاتو په تړاو يوه مکمله دوسيه ليکل کېده، بيا به د ليکل شوو دوسيو او د هغو په اړه فيصلې بررسي او د نيمګړتياوو په صورت کې به د نيمګړتياوو د حل په موخه لازمې لارښوونې کېدې.

دغه راز د سيمينار په پيل او پای کې ګډونوالو ته يوه امتحاني پارچه هم ورکړل شوه چې د دوی د ليکل شوو دوسيو سره له ضم او د هغه له مخې به د سيمينار د ارزونې نمرې ورکړل شي.

د يادونې وړ ده چې د پکتيکا ولايت د قضائي بستونو د علماء کرامو لپاره لس ورځنی سيمينار پنجشنبه (۱۴۴۴/۱۰/۲۸ هـ ق نېټه) پای ته ورسېد او د نورو مختلفو ولايتونو جديد التقرر علماء به د نورو مسايلو برخه کې د روزنې په موخه پنځه ورځې نور هم سيمينار کې ګډون ولري.

هېره دې نه وي چې ياد قضائي علمي سيمينار د روان ۱۴۴۴ هجري قمري کال د شوال المکرم مياشتې په ۱۹مه نېټه پيل شوی و.

**په نبوي دوره کې قضاء**

**څلورمه برخه:**

او همداسې رسول الله صلی الله عليه وسلم ددې څخه منع کړې ده چې قاضي پر يوه دعوه کوونکي آواز پورته کړي او هغه بل ته هيڅ ونه وايي، چې دا د دار قطني ددې روايت څخه واضح کيږي، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: ژباړه: څوک چې د مسلمانانو په منځ کې قضاوت کوي، نو خپل آواز دې پر يوه شخص تر هغه وخت نه پورته کوي، چې پر هغه بل شخص يې خپل آواز نه وي پورته کړی.

په دې امر کې د دعوه کوونکو ترمنځ پر برابروالي کولو باندې د وجوب تصريح شوې ده، چې ټولو هغه حالاتو کې چې د انصاف امکان پکښې وي. نبي کريم صلی الله عليه وسلم به مدعي ته دا لارښوونه کول، چې تر خپل حق نور تجاوز ونه کړي، لکه څرنګه چې د ابو سعيد خدري رضي الله عنه په روايت کړل شوي حديث شريف کې راغلي دي، دی فرمايي: د رسول الله صلی الله عليه وسلم په زمانه کې يو سړي په مېوو کې تاوان وکړ، نو ډېر پوروړی شو، رسول الله صلی الله عليه وسلم صحابه کرامو ته وفرمايل: «تصدقوا عليه» خپل دغه ورور باندې مو صدقه وکړئ، نو صحابه کرامو هم صدقې ورکړې، خو دومره مال جمع نه شو چې د هغه ټول پور پرې ادا سي. رسول الله صلی الله عليه وسلم د د پور څښتنانو ته وويل: ستاسو لپاره همدغه موجود مال دی، نو کوم څه چې مو وموندل همدا واخلئ، نور شی ستاسو لپاره نسته. [رواه مسلم رقم۱۵۵۶ باب استحباب الوضع من الدين].

دلته د پور څښتنان د خپل حق څخه علاوه د نور تجاوز څخه منع کړل شوي دي او حکم ورته شوی دی چې د پوروړي څخه هغه څه اخلئ کوم چې ور سره موجود وي.

اخذليک: تتمة النظام، ۲۸ ـ ۲۹ صفحه، تألیف: قاضي القضات شيخ عبدالحکيم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحيم راشد

## محاکم ولایت سمنگان در جریان دو هفته علاوه بر حل و فصل (۹٤) دوسیه، به تعداد (۷٤) قطعه وثایق نیز جرأکرده است

راپور اجراآت دو هفتهٔ ریاست عمومی محاکم استیناف ولایت سمنگان از تاریخ ۱٤٤٤/۱۰/۹ الی ۱٤٤٤/۱۰/۲۱ هـ ق که شامل دواوین استیناف، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری، آمریت ثبت اسناد وثایق و مخزن و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی های این ریاست در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق قرار ذیل می باشد.

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۵۷) دوسیه وارد محاکم گردیده است؛ در حالیکه چندین دوسیه نیز قبلاً تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۱۳) دوسیه فیصله شده، پیرامون (٥٤) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه ها تحت کار می باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲٦) دوسیه وارد محاکم گردیده است؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۱۷) دوسیه فیصله شده، پیرامون (۵) دوسیه قرار قضائی صادر شده و متباقی دوسیه ها تحت کار میباشد.

**در بخش وثایق:**

در مدت ذکر شده به تعداد (۷٤) قطعه وثایق مختلف النوع اجراء گردیده است.

## رئیس محکمه مرافعه ولایت فاریاب از محکمه ابتدائیه ولسوالی های چهارگانه اندخوی بازدید بعمل آورد

یوم یک شنبه مؤرخ ۱٤٤٤/۱۰/۱۷ محترم مولوی عبدالغنی «سعید» رئیس عمومی محکمه مرافعه ولایت فاریاب در حالیکه مولوی نعمت الله «ذاکر» رئیس دیوان جزاء مرافعه، محترم مفتی عبدالفتاح «قریشی» عضو دیوان مدنی مرافعه ومحترم مولوی عبدالجبار «حقانی» آمر وثایق ومخزن وی را همرائی می نمود به ولسوالی های چهار گانه اندخوی سفرنموده و از اجراآت یومیه محاکم ولسوالی های چهارگانه اندخوی(قرمقول، قرغان، خانچهارباغ) آن ولایت بازدید و نظارت بعمل آورد.

رئیس محکمه مرافعه درجریان این بازدید از حاضری منسوبین و جریان رسیده گی به امورات رسمی مراجعین نظارت بعمل آورده وتوصیه های لازم را غرض رسیده گی بهتر و بطور شفاف برای مسؤلین محاکم متذکره تأکید نمود و در بخش های قضائی و اداری محاکم مربوطه برای قاضی و اعضائی محاکم متذکره رهنمائی نمود ونیز برای حاضرین جلسه گفت؛ قضاء یک ارگان مستقل بوده نهایت کوشش شود تا امورات قضائی را بطور شفاف و عادلانه بین مردم قضاوت نمائید، در قسمت تحریر وثایق مختلف النوع مطابق رهنمود که اخیراً از طرف مقام عالی ستره محکمه ۱.۱.۱ به نشر رسیده اجراآت گردد، در قسمت رسیده گی بموقع دوسیه های وارده مطابق تاریخ ورود بسیار دقت صورت بگیرد تا از تعلل و التوا دوسیه جات جلوگیری بعمل آید. همچنان در مورد تحریر وثایق جدید که به لگوی امارت اسلامی طبع وبه محاکم توزیع گردیده است رهنمائی های لازم صورت گرفت. رئیس محکمه مرافعه در جریان این بازدید به مسؤلین محاکم فوق الذکر در مورد پیشبرد امورات قضاء طبق شریعت غرای محمدی و بادر نظر داشت فرامین و اصول اداری محاکم هدایات لازم نموده تأکید نمود تا با مراجعین و اصحاب دعاوی برخورد نیک و حسنه داشته باشند.

## د پکتیکا د مرافعه محکمې رئیس د عدلیې او زراعت له رئیسانو او د امارت د قضایاوو او حقوقو له آمرینو سره وکتل

د پکتیکاولایت د مرافعه محکمې رئیس محترم الحاج مفتي عبیدالله«خالد» د روان ۱۴۴۴ هـ ق کال د ۱۱مې میاشتې په ۳مه نېټه د یاد ولایت د عدلیې او زراعت له رئیسانو او د امارت د قضایاوو او حقوقو له آمرینو د ځینې مربوطه موضوعاتو په تړاو د بحث لپاره ناسته وکړه.

غونډه د حقوقو د آمر محترم مولوي محمدعیسی لخوا د قرآن عظیم الشان د مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه؛ ورپسې د پکتیکا د محاکمو عمومي رئیس محترم الحاج مفتي عبیدالله «خالد» هر اړخیزه او عالمانه وینا وکړه وویل، د خلکو د حقونو د ضایع کېدو د مخنیوي په موخه دغه ډول ناستې ضرور دي.

د مرافعه محکمې رئیس د عدلیې له رئیس سره د عریضه لیکونکو د غلطو عرایضو لیکلو او د هغوی د نه پوهېدو، د مدافع وکیلانو او دارالوکالو او د بارګینونو او مسافرخانو دکنټرول په اړه خبرې وکړې او هغه ته یې د یادو موضوعاتو اړوند لازمي مشورې ورکړې.

پر دې سربېره محترم الحاج مفتي عبیدالله«خالد» د زراعت له رئیس سره د محاکمو د ځمکو په اړه خبرې وکړې او د زراعت د رئیس لخوا د یادو ځمکو په اړه معلومات ورکړل شول.

محترم مفتي خالد د امارت د قضایاوو له آمر سره د امارتي ځمکو په اړه خبرې وکړې، ترڅو خدای مه کړه یادې ځمکې د اشخاصو لخوا حیف او میل نشي.

د عدلیې رئیس په خپلو خبرو کې د دغه ډول غونډو جوړول ضروري وبلل او ژمنه یې وکړه چې د عریضه لیکونکو لپاره به سیمینارونه جوړوي، ترڅو ورته تول هغه شرایط او اصول ور وښودل شي چې د عریضو صحت لپاره اړین دي.

دغه راز یې د مدافع وکیلانو د حقوقو، د بارګینونو د جواز او مسافرخانو په اړه خبرې وکړې.

په یاده غونډه کې د مسؤلینو لخوا ځینې ستونزې او مشکلات بیان شول چې الحمدلله تر ډېره ورته د حللاره پیدا شوه.

## جلسه اداری ریاست عمومی محکمه استیناف ولایت بادغیس

جلسه اداری محکمه استیناف ولایت بادغیس یوم سه شنبه مورخ ۱۴۴۴/۱۰/۲۶ تحت ریاست محترم مولوی عبدالخالق «محمدی» رئیس عمومی محکمه استیناف با اشتراک منسوبین قضائی واداری ریاست عمومی محکمه استیناف، آمریت ثبت اسناد، وثایق ومخزن، محکمه ابتدائیه شهری در صالون جلسات ریاست محکمه استیناف دایر گردید.

ابتداء جلسه با تلاوت آیاتی چند از کلام الله مجید توسط مولوی شرف الدین «شرافت» رئیس دیوان جزاء استیناف آغاز گردید سپس رئیس محکمه استیناف حاضرین جلسه را خوش آمدید گفت بعداً روی آجندای جلسه ذیلاً تبادل نظر صورت گرفت:

۱ـ طبق آیه مبارکه قرآن پاک اطاعت از اوامر الهی واولی الامر بر ما وشما وجیبه است وباید همگی از اوامر اولی الامر خویش اطاعت نمائیم.

۲ـ پابندی به حاضری که یک اصل است در اوقات رسمیات هیچکس حق ندارد بدون اطلاعیه وخود سرانه وظیفه را ترک نماید چراکه اجرت در مقابل کار است در صورت غیابت نزد الله متعال (ج) مسئول میباشد.

۳ـ راجع به موضوعات استخلافیه واسناد وثایق صحبت های عالمانه نمودند و جلسه با دعائیه خیر خاتمه یافت.

## رئیس عمومی محکمه مرافعه ولایت جوزجان با اعضای شورای علماء و مدیر جنائی قوماندانی امنیه آن ولایت دیدار کرد

بتاریخ ۲۳/۱۰/۱۴۴۴ هـ ق محترم مفتی عبدالوهاب «زاهد» رئیس عمومی محکمه مرافعه ولایت جوزجان با اعضای محترم شورای علماء و مدیر جنائی قوماندانی امنیه آن ولایت در دفتر کاری اش دیدار و گفتگو نمود.

در این دیدار میان طرفین پیرامون موضوعات ذیل بحث و تبادل نظر صورت گرفت:

۱ ـ حل و فصل عرایض مردم در ادارات ارگانهای عدلی و قضائی.

۲ ـ تعین هیئت با صلاحیت در رابطه به منازعات یورت، قوطن و علفچرها از مشرتابه به ولایات جوزجان، فاریاب و سرپل.

۳ـ رعایت اصول محاکمه طبق لایحه محاکم و اصول نامه از طرف ارگانهای عدلی و قضائی.

٤ ـ اقرار متهم در حضور قاضی طبق شریعت اسلام و اصول نامه اداری و قضائی.

۵ ـ هماهنگی و احترام متقابل در ادارات عدلی و قضائی در چوکات شریعت اسلام.

٦ ـ اصول محاکم باید به شریعت اسلام بوده باشد.

۷ـ رهنمائی طرز العمل کاری محاکم در جلسه یاد آوری گردیده که مسؤلین محترم در زمینه هر کدام بالنوبه صحبت های خویش را ارایه نموده و از طرف یکدیگر پذیرفته شد و در اجراآت کاری خویش مواد های فوق را عملی نموده در قسمت مواد شماره دوم از طرف اعضای محترم شورای علماء آن ولایت و عهد سپرده شد که موضوع هذا را به مقام محترم مشرتابه رسانیده خواهد شد و ان شاءالله مشکلات مردم از این ناحیه در آینده های نزدیک حل خواهد شد و جلسه با دعائیه خیر و فلاح مردم این سرزمین خاتمه یافت.

## بازدید رئیس محکمه مرافعه ولایت غور از محکمه ابتدائیه ولسوالی لعل و سرجنگل

بتاریخ ۱٤٤٤/۱۰/۱۳ محترم مولوی سخی الرحمن «فایز» رئیس محکمه مرافعه ولایت غوربامعیتی دوتن ازکارمندان اداری آن محکمه از محکمه ابتدائیه ولسوالی لعل وسرجنگل غور بازدید بعمل آورد.

ابتداء جلسه ای را بااشتراک ولسوال، قوماندان امنیه، آمرمحبس، آمراستخبارات، مدیر حقوق، رئیس واعضای محکمه ابتدائیه ولسوالی لعل وسرجنگل که چند تن از مسئولین آن ولسوالی اشتراک داشتند دائر نموده و راجع به دست آوردهای امارت اسلامی افغانستان صحبت همه جانبه نموده فرمود: مسئولین امارت اسلامی در سراسر افغانستان بعد ازفتح وپیروزی مجاهدین درعرصه های اقتصادی، سیاسی، اجتماعی، فرهنگی، امنیتی وغیره فوق العاد خوب درخشیدند که همه دست آوردها ناشی از اتفاق، اطاعت، اخلاص، عدم تبعیض و نداشتن تعصبات قومی، نژادی، لسانی مجاهدین و رهبری امارت اسلامی بوده،که تاکنون دست آورده های خوبی بدست آمده سپس درمورد هماهنگی ارگانها ذیربط آن ولسوالی توصیه های لازم نموده گفت درصورت کدام مشکل همرای بامسئولین قضائی ولسوالی لعل داشته باشند و نیز به محکمه مرافعه مراجع نموده عندالموقع برفع آن تلاش خواهد کرد که مسئولین آن ولسوالی هرکدام بالنوبه ازهماهنگی ارگانهای ذیربط دراجراآت یومیه اطمینان کامل دادند. درین سفر دوجریب زمین که درسال۱۳٤۸ برای محکمه ابتدائیه ولسوالی لعل وسرجنگل ذریعه قبال مؤرخ ۱۳٤۸ برای اعمال تعمیر محکمه آن ولسوالی خریداری شده بود حدود اربعه آن توسط رئیس محکمه مرافعه مشخص ونشانی شد گردید، وسنگ تهداب ٤ باب اطاق خامه با ملحقات آن برای دفتر اداری محکمه آن ولسوالی بحضور داشت مسئولین نظامی و ملکی ولسوالی یاد شده گذاشته شد که دراعمار و به ثمر رساندن اتاقها برای محکمه ولسوالی لعل تمام مسئولین نظامی و ملکی و مردمی هر کدام وعده همکاری دادند.

## دکابل ولایت د مرافعه محکمې رئیس د یو پلاوي په مشرۍ د بګرامي او خاکجبار ولسوالیو ابتدائیه محاکمو څخه څارنه وکړه

د ۱۴۴۴ هـ.ق کال د ذوالقعدې د میاشتې په لومړۍ نېټه د کابل ولایت د مرافعې محکمې رئیس محترم مولوي عبدالشکور «رشاد آخندزاده» صاحب په مشرۍ، د مرافعه محکمې تجارتي دېوان رئیس ښاغلي مولوي عبدالله «اسرار» او د مرافعه محکمې د عمومې ریاست تحریراتو مسؤل ښاغلي عنایت الرحمن «صافي» په ګډون د بګرامي او خاکجبار ولسوالیو ابتدائیه محاکمو څخه د نظارت او کنټرول په موخه کتنه وکړ.

په پیل کې یاد پلاوي د بګرامیو ولسوالۍ ابتدائیه محکمې ته په ورتګ سره د یادې محکمې قضائي او اداري چارې وڅېړلې او نیمګړتیاوي یې ورته په ګوته او د حلېدو په موخه یې بشپړ لارښوونې وکړې؛ وروسته د یادې ولسوالۍ د محکمې په ریاست کې د محکمې مسلکي او اداري غړي، د ولسوالۍ مسؤلین، د امنیتي چارو مشرتابه، د حقوقو مدیر، د امر بالمعروف او نهی عن المنکر مسؤلین او د زراعت مسؤل په ګډون همغږۍ غونډه تر سره شوه.

لومړی ښاغلي رشاد صاحب د غونډې ګډون والو ته په خطاب سره وویل: اوس الحمد لله په ټول افغانستان کې اسلامي نظام قائم دی او دا ویاړ په ډېرو کړاوونو لاس ته راغلی دی، نور موږ ټول باید د نظام په قائم ساتلو کې خپله پوره هڅه وکړو، کوم مسؤلیتونه چې موږ ته سپارل شوي په ښه توګه یې ترسره کړو، کومې اداري چې د بګرامیو ولسوالۍ پورې مربوط دي باید خپل منځ کې پوره همغږي ولري تر څو خپلو چارو کې بریالي اوسي .

ورپسې د ولسوالۍ مسؤل او امنیتي چارو مسؤلین د مرافعه محکمې ښاغلو پلاوو ته د ښه راغلاست وروسته د دوی د راتګ هرکلی وکړ او زیاته یې کړل، چې الحمد لله د بګرامیو ولسوالۍ ټول مربوطه اداري د یو بل سره ښې اړیکې لري او په ښه همغږي سره خپلې چارې ترسره کوي.

په پای کې د محکمې او حقوقو مدیریت ښاغلو کارمندانو د کارونو د ډېروالي او د کارمندانو د کموالي په هکله ښاغلي رشاد صاحب ته یادونه وکړ او د ښاغلي رشاد صاحب لخوا د دوی د ستونزو د حلېدو په هکله ډاډګېرنه ورکړل شوه.

یاد پلاوي د بګرامیو ولسوالۍ څخه وروسته د خاکجبار ولسوالۍ ابتدائیه محکمې ته ورغلل او د یادې محکمې قضائي او اداري چارو د څېړلو وروسته د موجوده ستونزو د حلېدو لپاره بشپړې لارښوونې وکړې.

## تدویر جلسه هماهنگی ارگان های عدلی و قضائی در محکمه مرافعه ولایت کندز

جلسه ویژه شورای هماهنگی ارگانهای عدلی و قضائی ولایت کندز یوم چهارشنبه مؤرخ ۱٤٤٤/۱۰/۲۷ تحت ریاست محترم مولوی نور محمد «نوری» رئیس عمومی محکمه مرافعه با اشتراک محترم ملا نثار احمد «نصرت یار» والی آن ولایت، محترم مولوی سید رحیم «ذو الفقار» آمر امنیت داخلی قوماندانی امنیه، محترم مولوی عزیزالله «سعیدی» رئیس عدلیه، محترم مولوی اختر محمد «صدیق» مدیر تحقیق ریاست استخبارات، شیخ عبدالوارث سرپرست محکمۀ ابتدائیه نظامی زون کندز، محترم قاری محمد انور بشیر رئیس زندان، محترم داکتر حشمت الله «سروری» آمر طب عدلی ریاست صحت عامه، مولوی امان الله «حسن» رئیس زراعت، رؤسای محترم دواوین محکمۀ مرافعه، رئیس محکمۀ ابتدائیه شهری، آمر حقوق محکمۀ مرافعه و نماینده گان سایر ارگان های عدلی و قضائی در تالار جلسات ریاست عمومی محکمه مرافعه غرض برطرف نمودن چالش ها و مشکلات های که سد راه ارگانهای عدلی و قضائی قرار میگیرد تدویر یافت.

ابتداء جلسه با تلاوت آیاتی چند از کلام الله مجید توسط مولوی حبیب الله «مسلمیار» رئیس دیوان امنیت عامه مرافعه آغاز شد، سپس رئیس محکمه مرافعه طی صحبت های همه جانبه شان حضور گرم مشترکین جلسه را خوش آمدید و خیر مقدم گفته تدویر جلسات ارگان های عدلی و قضائی را در راستای رفع چالش ها و مشکلات ارگان های عدلی و قضائی بسا مفید و مؤثر دانسته و رهنمائی های لازم شان را در تطبیق قوانین شرعی و تامین عدالت که یکی از تقاضاهای مردم آن ولایت میباشد به مجلس ارشاد فرمود.

در ادامه والی کندز نیز شورا و جلسه را در حل مشکلات ارگانهای عدلی و قضائی مثبت و کارا تلقی نموده همکاری و همیاری شان را در تامین هر چه بیشتر عدالت و خدمت به مردم شریف آن ولایت اعلام نمود.

بعداً مشترکین جلسه روی آجندا از قبل ترتیب شده تمرکز نموده، چالش ها و مشکلات بالترتیب در جلسه از طرف رؤسای دواوین محکمۀ مرافعه، رئیس محکمۀ ابتدائیه شهری و سایر اشتراک کننده گان جلسه مطرح گردید که بعد از استماع چالش های مطروحه؛ راه حل های مشکلات جستجو و به رفع آن تعهد و وعده همکاری صورت گرفت.

در اخیر، جلسه از طرف والی ولایت جمع بندی و نتیجه گیری گردید و جلسۀ شورای هماهنگی را در راه پیشبرد بهتر امورات ارگان های عدلی و قضائی با اهمیت دانسته و آمادگی شان را در راستای خدمت به مردم و جامعه ابراز داشتند و جلسه با دعائیه خیر و فلاح توسط محترم مولوی عزیزالله «سعیدی» رئیس عدلیه خاتمه یافت.

## دکندهار ولایت د مرافعه محکمې د غونډو په تالارکې دکندهار او هلمند د قضاتو او مفتي صاحبانو تر منځ اداري غونډه ترسره شوه

شنبه ۱۴۴۴/۱۱/۷ هـ ق نېټه د کندهار ولایت د مرافعه محکمې د رئیس شیخ مولوي عبدالغفار بحر صاحب په مشرۍ اداري غونډه وشوه، چې دکندهار ولایت د مرافعه محکمې د دېوانونو رئیسانو او اعضاوو، د شهري ابتدائیه محکمې رئیس، د دېوانونو ټولو رئیسانو او اعضاوو، همدا راز د ولسوالیو قاضیانو، مفتیانو، محررینو او د کندهار زون نظامي محکمې رئیس صاحب ګډون درلود، ددې تر څنګ د هلمند ولایت د مرکز او ولسوالیو قاضیانو، مفتیانو او محررینو هم شمولیت درلود.

غونډه د قرآنکریم په څو مبارکو آیاتونو پیل شوه، چې وروسته د مرافعه محکمې د مدني دېوان رئیس محترم مفتي عبدالجلیل(سفیان)صاحب د فیصلو تعلیمات نامه چې (۷۸) مادې لري ولوسته او تشریحات یې ور کړل. ور پسې د مرافعه محکمې د نظامي منسوبینو دېوان عضو مفتي، محترم عبدالرازق (راشد) صاحب له طرف د نقض فیصلو(۳۷) موارد په ګوته کړل شوه.

د مرافعه محکمې دثبت اسناد وثایقو او مخزن آمر محترم مولوي حبیب الرحمن(نقشبندي) صاحب د وثایقو په هکله معلومات وړاندې کړل او همدارنګه د ولسوالیو محاکمو له مسؤلینو څخه یې غوښتنه وکړه، چې د تیرې اداري د وثایقو کتابونه که په محاکمو کې موجود وي د حفاظت لپاره یې مخزن ته په اصولي طریقه تسلیم کړي.

د مرافعه محکمې د جزاء دېوان رئیس محترم فضل الله(عاصم)صاحب په خپله وینا کې وویل، چې محاکم دې د خپلو بندیانو له سرنوشت څخه باخبره اوسي او یو نقل د فیصلې دې محبس ته حتماً واستول شي، د مرافعه طلبي په صورت کې دې مربوطه دوسیه د مرافعه محکمې دېوانونو ته راواستوي.

د غونډې په پای کې د مرافعه محکمې رئیس محترم شیخ الحدیث مولوي عبدالغفار (بحر)صاحب د محاکمو د قضائي او اداري اجراآتو په تړاو خپله وینا وکړ او له ټولو ګډونوالو څخه یې غوښتنه وکړه، چې ټول قضائي او اداري اجراآت دې د شریعت د اصولو مطابق پر ټاکلي وخت ترسره کوي او همدا راز له مراجعینو سره دې ښه سلوک او برخورد کیږي. شیخ صاحب د غونډې ګډونوالو ته په خطاب کې وویل، چې له تعلقاتو او میلمستیاوو څخه ځان ساتئ، په اخیر کې د اجراآتو د توحید او یووالي په موخه ټولو محاکمو ته یو سیټ (دمتحدالمالونو مجموعه، د وثایقو رهنمود، د محاکمو لایحه، د صادرې او واردې لارښود، د فیصلو د لیکلو تعلیمات نامه، د اداري اجراآتو تعلیمات نامه، د محاکمو عالي اداري مکتوبونه، نکاح خط، وکالت خط، حصر وراثت، وصیت خط او د نوم اصلاح وثیقه لیکل شوې نمونه) توزیع کړل شول، له ټولو څخه غوښتنه وشوه، چې پر خپلو ورځني قضائي او اداري کارو کې دې عملي کړي.

یاده غونډه د شیخ مولوي ګل آغا صاحب د ښاري ابتدائیه محکمې رئیس له طرفه د دعاء په ویلو پای ته ورسېده.

## د لغمان ولایت د استیناف محکمې ریاست د غونډو په تالارکې اداري غونډه ترسره شوه

د ۱۴۴۴ هـ ق کال د شوال المکرم د میاشتې په ۲۸ مه نېټه د لغمان ولایت د مرافعه محکمې د غونډو په تالارکې اداري غونډه دائره شوه.

یاده غونډه چې د لغمان ولایت د مرافعه محکمې رئیس، د ښاري محکمې رئیس او د لغمان ولایت اړوند ولسوالیو د ابتدائیه محاکمو محترمو قاضیانو، مفتیانو او محررینو ګډون کړی وو، دکلام الله مجید په څو مبارکو آیاتونو سره پیل شوه.

ورپسې د غونډې رئیس ښاغلي مولوي عبدالله (فرقاني) ګډونوالو ته ښه راغلاست ووایه او د غونډې په اهمیت یې هر اړخیزه وینا وکړه، چې وروسته یې د غونډې ګډونوالو ته په لاندې موضوعاتو تأکید وکړ.

لومړی، دا کومې دوسیې چې د پورته محاکمو له خوا نقض شوي وي د هغو کړنو ته باید لومړیتوب ورکړل شي.

په دوهم پړاو کې هغه دوسیې چې د تاریخ له مخې محکمې ته مخکې راغلي وي باید ژر تر ژره حل او فصل شي.

درېیم دا چې هره دوسیه د هغه طرزالعمل مطابق لوړې محکمې ته واستول شي چې د سترې محکمې له خوا یې په متحد المآلونو کې ذکر شوی دی.

د غونډې په وروستۍ برخه کې ګډونوالو خپلې ستونزې واورولې چې د لغمان ولایت د مرافعه محکمې د رئیس له خوا ورته لازم هدایات ترسره شول.

غونډه د دعائیه په ویلو سره پای ته ورسیده.

## د لوګر ولایت د استیناف محکمې رئیس د برکي برک او څرخ ولسوالیو ابتدائیه محاکمو ته د قضائي اجراآتو د ارزونې په موخه سفر تر سره کړ

په ۱۰/۷ / ۱۴۴۴ هـ ق نېټه د لوګر ولایت استیناف محکمې رئیس مولوي موسی کلیم عاصم او ورسره مل پلاوي د لوګر ولایت برکي برک او څرخ ولسوالیو له محکمو څخه لیدنه تر سره کړه.

یادو محکمو ته له رسېدو وروسته د استیناف محکمې رئیس، د حاضرۍ، اندراج، واردې او صادرې، رسیداتو کتابونه وکتل او مسؤلینو ته یې په یادو کتابونو کې د شته نیمګړتیاوو د سمون توصیه وکړه .

ورپسې یې د یادې محکمې د قضائي اجراآتو ( فیصلو، قرارونو، او وثیقو) ځینې نمونې مطالعه کړې، چې په یادو برخو کې دوی ته د شته کمیو د اصلاح کولو لارښوونه وشوه.

نوموړي د یادو محکمو مسؤلینو ته توصیه وکړه، چې په خپلو دندو کې دې له پوره اخلاصه کار اخلي، د خلکو دوسیو ته دې په خپل وخت رسیدګي کوي، په قضائي اجراآتو کې دې دکار د کمیت تر څنګ دکار کیفیت ته هم متوجه شي او کارونه دې د یوه منظم پلان له مخې مخته یوسي، تر څو کاري وخت په سالمه توګه مدیریت شي، تر څو مثبته نتیجه پرې مرتبه وي.

په پای کې د استیناف محکمې رئیس د یادو ولسوالیو د قضائي مسؤلینو ستونزې او غوښتنې واورېدې، دوی ته وعده ورکړل شوه، چې د امکان تر حده به د دوی ستونزې حل او غوښتنو ته به یې رسیدګي وکړل شي.

د یادو سفرونو عمده موخه د محاکمو له قضائي او اداري اجراآتو څخه لیدنه، د شته نیمګړتیاوو حل، قضات خپلو دندو ته متوجه کول او له مرکز سره د ولسوالیو د اړیکو پراخوالی وو.

سرپرست مسئوول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
ادیتور : جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

د افغانستان اسلامي امارت د ستري محکمې دغه څرګندویه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

## رئیس جدید محکمه نظامی زون غرب به همکارانش معرفی شد

جلسهٔ بتاریخ ١٤٤٤/١٠/١٦ هق تحت ریاست محترم مولوی عبدالله «قادری» رئیس عمومی محکمه ولایت هرات با اشتراک محترم مفتی سید احمد «معتصمی» رئیس دیوان جزاء استیناف، محترم مفتی عبدالمنان «مهاجر» رئیس دیوان امنیت عامه استیناف و محترم مولوی غلام سرور « عالمی» رئیس دیوان منسوبین نظامی استیناف زون غرب در سالون ریاست محکمه زون غرب دایر گردید.

ابتداء جلسه با تلاوت آیات چند ازکلام الله مجید توسط محترم قاری شمس الرحمن «امین سعید» آغاز شد سپس رئیس عمومی محکمه راجع به اینکه تبدیلی ازیک مسؤلیت وظیفه ئی به مسؤلیت دیگری یکی از اصول امارت اسلامی افغانستان میباشد و اطاعت از اوامر و فرامین جناب عالیقدر امیرالمومنین حفظه الله از وجایب دینی بوده و میباشد صحبت نمود، سپس رئیس موصوف از کاکردهای محترم مولوی احمد «ترکستانی» رئیس اسبق محکمه نظامی زون غرب قدر دانی کرد و از کارکرد های شان در مدت سپری شده منحیث رئیس محکمه نظامی زون غرب ستایش نمود بعداً تقرر ذوات محترمین ذیل را هریک: محترم شیخ الله «نظر » به حیث رئیس محکمه نظامی زون غرب، محترم مولوی ابوسعید به حیث قاضی محکمه نظامی زون غرب، محترم مولوی نعمت الله به حیث مفتی محکمه نظامی زون غرب و محترم عزیزالله «برهانی» به حیث عضو محرر محکمه نظامی زون غرب توسط رئیس محکمه استیناف به همکاران شان معرفی گردیدند.

در ادامه شیخ الله «نظر» رئیس جدید محکمه نظامی زون غرب صحبت های خویش را به حاضرین در جلسه درمورد اطاعت از اوامر جناب عالیقدر امیرالمومنین حفظه الله تعالی و اینکه محاکم در کشور مانند قلب یک انسان است بیان نمود. متعاقباً شیخ محمد رئیس دیوان امنیت عامه استیناف محکمه مرافعه ولایت هلمند نیز صحبتهای عالمانه را ایراد نمود وجلسه با دعائیه اختتامیه محترم شیخ الله «نظر » رئیس محکمه نظامی زون غرب خاتمه یافت.

## د هلمند ولایت د مرافعه محکمې عمومي رئیس د دغه ولایت له مرکزي محبس څخه لیدنه وکړه

د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله ) د ځانګړي هدایت په اساس او د شریعت مقدس د اصولو د تعمیل په موجب نن دوشنبه(۲/۱۱/۱۴۴۴هـ ق نېټه) د هلمند ولایت د مرافعه محکمې رئیس محترم مولوي محمد نبي (حماس) او ورسره ګډ هیئت، د مرافعه محکمې د عامه امنیت دېوان رئیس، د دېوان جزا عضو محرر، د تحریراتو عمومي امر او اجرائیه مدیر، د هلمند ولایت له مرکزي محبس، د ښځینه محبس او د اطفالو ( دارالتأدیب ) څخه لیدنه وکړه .

په یاده لیدنه کې د حقوقي او جزائي بندیانو مجموعه، چي (۲۱۳ ) تنه نارینه، ښځینه او اطفالو شامل وه، د هر یوه څخه په جلا/جلا توګه پوښتنې وشوې او تولې ستونزې یې واورېدل شوې.

یاد ګډ هیئت هغه حقوقي او جزائي بندیان، چي بې سرنویشته معلومېدل او یا یې د موضوعاتو په حل او فصل کې ځنډ راغلی وو لیست شوه، د ستونزو د حل او د ځنډ د لامل د څرګندولو لپاره یې موضوعات خپل اړوند مراجعو سره شریک کړه.

د عالیقدر امیر المؤمنین (حفظه الله ) د قضائي هیئت لپاره د جوړ شوي طرز العمل سره سم به هغه بندیان چې بې سرنویشته دي خوشي شي.

او یاده پروسه به د ګډ پلاوي په همکارۍ په ټولو ولسوالیو، ابتدائیه محاکمو او مربوطه محبسونو کې جریان ولري.

## رئیس عمومی محکمهٔ مرافعهٔ دایکندی از دواوین محکمهٔ ابتدائیه شهری آن ولایت بازدید کرد

به تاریخ ١٤٤٤/١٠/١٧ هـ ق محترم مولوی عبدالکریم «محمدی» رئیس عمومی محکمهٔ مرافعهٔ ولایت دایکندی به همراهی محترم مولوی محمد رحیم «محمود» رئیس محکمهٔ ابتدائیه شهری و محترم نصرالله «ابراهیمی» آمر تحریرات ریاست عمومی محکمه مرافعه آن ولایت، غرض بررسی امورات قضائی و اداری و رفع ضروریات و نیازمندی های محکمه ابتدائیه شهری از دواوین محکمهٔ مذکور باز دید نمود.

رئیس محکمهٔ مرافعه برای قضات محکمهٔ مذکور توصیه نمود و توجه قضات را به اجراآت اداری و قضائی الزامی دانست، خطاب به منسوبین آن محکمه گفت که با مراجعین برخورد نیک داشته باشید، اجراآت خویش را با شریعت غرای محمدی و اسلامی عیار نمائید.

محترم مولوی عبدالکریم «محمدی» افزود، در روندکاری خویش سرعت دهید و به مشکلات خلق الله طبق شریعت رسیدگی نمائید، متحدالمآل نمبر(۳۶) مؤرخ ۱۴۴۴/۵/۹ هـ ق شورای عالی ستره محکمه را مد نظر داشته و بالای وظایف خویش در اوقات رسمی حاضر باشید، دروازهٔ محکمه روزمره در اوقات رسمی مسدود نباشد.

باید گفت که قضات محکمه مذکور از بازدید رئیس عمومی محکمهٔ مرافعه و توصیه های رهنمودی وی اظهار سپاس و قدردانی نمودند.

### د میدان وردګ ولایت له مرکزي زندان څخه لیدنه ترسره شوه.

د روان ۱۴۴۴ هـ ق کال د شوال میاشتې په ۲۴مه نېټه د میدان وردګ ولایت د استیناف محکمې عمومي رئیس ښاغلي مولوي صاحب عبدالکریم « حقاني » په مشرۍ یو خلور کسیز پلاوي د میدان وردګ ولایت له مرکزي زندان څخه لیدنه وکړه.

یاد پلاوي په پیل کې د زندان له مسؤلینو سره د زندان او بندیانو په وضعیت خبرې وکړې، ورپسې یې په یاد زندان کې له هر یوه بندي سره په جلا جلا توګه وکتل د هغو ستونزې یې واورېدې او د حل په موخه یې د زندان مسؤلینو او بندیانو ته ډاډ ورکړ، چې دوسیو ته به یې په وخت رسیده ګي کیږي او د ستونز د حل په برخه کې به دواړې اداري یو له بل سره دومداره همکاري کوي، چې له یادې لیدنې څخه د زندان مسؤلینو او بندیانو خوښی څرګنده کړه.

## امروز محکمهٔ مرافعهٔ پروان بالای یک تن از متهمین حکم جزای تعزیری تطبیق کرد

محکمهٔ مرافعهٔ پروان امروز یکشنبه (مؤرخ ١٤٤٤/١١/١ هـ ق) حکم تعزیر را بالای یک تن از متهمین فعل زناکه دوسیه نسبتی آن از طرف دیوان جزأ استیناف پروان قطعی گردیده بود در محضر عام تطبیق کرد؛ تا جزا به خودش و پند برای دیگران گردد.

در نخست چند آیات قرآن عظیم الشان توسط یکی از اشتراک کننده گان تلاوت گردید؛ بعداً محترم مولوی روح الله «عبدالسلام» رئیس محاکم استیناف پروان از جمله سخان عالمانهٔ خویش در مورد حدود و تعزیرات صحبت مختصر نمود.

همچنان طبق هدایت متحدالمآل شماره(۳۸)مؤرخ ١٤٤٤/٦/٤ هـ ق ریاست محترم عمومی دارالانشاء مقام عالی ستره محکمه امارت اسلامی افغانستان به همه ارگان های امنیتی و استخباراتی هدایت داده شد تا مطابق آن هر یک در حصه خویش اجرآات نمایند.

به همین ترتیب پیرامون موضوع محترم مولوی عبدالولی»حلیم» رئیس دیوان جزاء استیناف و محترم مولوی عبدالرحیم»احمد» رئیس زندان ولایت پروان در مورد به نوبه خود سخنرانی نمودند و در اخیر برویت جدول ترتیب شده، شهرت متهم، به خوانش گرفته شد و توسط پرسونل مؤظف ریاست محبس ولایت پروان در میدان اجرای تعزیر انتقال و حکم تعزیر بالایش تطبیق گردید.

## د بلخ د نظامي محکمې رئیس د شبرغان او سرپل ولایتونو له عمومي زندانونو څخه لیدنه وکړه

د روان ۱۴۴۴ هـ ق کال د ذوالقعدې میاشتې په ۴مه نېټه د بلخ ولایت د نظامي محکمې رئیس محترم مفتي ابوعاصم د دې محکمې د قاضي محترم شیخ عبدالله (حنیف) په ملتیا د نظامي زندانیان د وضعیت د معلومولو په موخه د شبرغان او سرپل ولایتونو له عمومي زندانونو څخه لیدنه وکړه.

د بلخ د نظامي محکمې رئیس شبرغان ولایت ته د سفر پر مهال د یاد ولایت له عمومي زندان څخه پر کتنه سربېره د شبرغان له والي محترم ګل حیدر، د زندان له رئیس او د امنیه قوماندانۍ د داخلي امنیت له مدیر سره جلا، جلا لیدنې وکړې او په ځینو اړوند موضوعاتو یې وسره خبرې وکړې.

محترم مفتي ابوعاصم او محترم شیخ عبدالله (حنیف) شبرغان ولایت کې له ولایتي اداري مسؤلینو سره تر ملاقات وروسته سرپل ته سفر وکړ.

د بلخ د نظامي محکمې یاد پلاوي سرپل ولایت کې د مرستیال والي، امنیه قوماندان محترم مولوي عبدالبصیر او یو شمېر نورو مسؤلینو سره په ملاقات سربېره د قتل اړوند یوې موضوع د کشف الحال لپاره د قتل سیمې ته لاړل، هلته یې د سیمې (بغاوي کلي) له اوسېدونکو څخه د قتل په تړاو پوښتنې وکړې.

دغه راز یاد پلاوي د سرپل ولایت له عمومي زندان څخه هم لیدنه وکړه، د زندانیانو د وضعیت معلومولو په اړه یې د محبس له مدیر سره خبرې وکړې او د محبس مدیر ډاډ ورکړ چې ستاسو د محکمې اړوند زندانیان یې بلخ ته انتقال کړي او دلته هېڅ بندي نشته.

## رئیس محکمه مرافعه ولایت تخار از محاکم ولسوالی های بنگی و اشکمش بازدید نمود

به روز چهارشنبه مؤرخ ١٤٤٤/١٠/٢٧ هـ ق محترم مولوی محمد صابر ( حنفی ) رئیس محکمه مرافعه ولایت تخار با هیئت معیتی شان به ولسوالی های بنگی و اشکمش ولایت تخار سفر نموده، از دفاتر و اجرآات قضائی و اداری محاکم ولسوالی های فوق و پرسونل حقوق بازدید نمود.

هدف از این سفر بهبود اجرآات و حل وفصل به موقع قضایای خلق الله بوده و به همین مناسبت رئیس محکمه مرافعه و هیئت همراه شان دفاتر کاری، حاضری، وارده و صادره، اندراج وکتاب ثبت فیصله ها و همه اجرآات و قضایای تحت بررسی محکمه ابتدائیه ولسوالی بنگی و اشکمش و مدیریت های حقوق آنها را مشاهده و مورد بررسی قرار دادند.

که در جریان بررسی برخی خلا و نواقصات که مشاهده گردید یادداشت گردیده و همرای قضات و منسوبین محاکم مذکور جلسه های جداگانه دایر و در مورد بهبود اجرآات و رفع خلاها با در نظرداشت لوایح و اصول امارت اسلامی رهنمائی وهدایت لازم برای شان داده شد.

علاوه از رهنمائی در امور قضائی و اداری در مورد پابندی به حاضری یومیه، مطالعه وعمل نمودن به متحدالمآلها و تصاویب مقام عالی ستره محکمه، برخورد نیک و یکسان با اصحاب دعاوی و ارسال نمودن راپورهای اجرآات در زمان معین تاکید صورت گرفت.

میزان

د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې

پته : ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

publication@supremecourt.gov.af
www.supremecourt.gov.af

د ټلیفون شمیرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱
۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳